عمومي اسامبله

امنیت شورا

خپرېدل: عمومي
۱۳ جون 2024
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**اته اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**د افغانستان وضعیت**

**د امنیت شورا**
**اته اویایم کال**

## د افغانستان وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغېزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی: پېژندنه

۱.  دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پرېکړه لیک او د امنیت شورا (۲۰۲۴) ۲۷۲۷ پرېکړه لیک په تعقیب په کومو کې چې له عمومي منشي غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د ځایي کچې په ګډون په افغانستان کې د وضعیت او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه راپور ورکړي.

۲.  د ۲۰۲۴ کال د فبروري د ۲۸ نېټې د تېر راپور (A/78/789-S/2024/196) له خپرېدو راهیسې دغه راپور د سیاسي، بشري، او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند تحولات

۳.  برحاله چارواکو عامه یووالي ساتلی او د هیواد پر ټول قلمرو یې خپل واک اعمال کړی، که څه هم د هغوي په داخلي جوړښت کې ځینې کشمکشونه موجود دي. دوي له ټولنو سره خپلو اړیکو ته دوام ورکړی ترڅو تشې ډکې کړي او د هغوي ملاتړ ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې د مدني او سیاسي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د نارینه او ښځو لپاره ځای کموي. نوي ښوونیز کال په مارچ کې پیل شو او د نجونو لپاره له شپږم ټولګي پورته ښوونځي لا اوس هم د درېیم کال لپاره سر پر سر تړلي دي. برحاله چارواکو خلک مدرسو ته د خپلو ماشومانو لېږدولو ته هڅولي او د خپلو دوه اړخیزو ډیپلوماتیکو تعاملونو غښتلي کول یې جاري ساتلي، په تېره بیا له سیمه ییزو هیوادونو سره. د وسله وال اپوزیسیون د ټیټې کچې شدت بریدونو ترڅنګ د عراق او شام د اسلامي دولت-خراسان ډلې بریدونه دوام لري. په ۲۰۲۴ کال کې، د اټکل له مخې شا و خوا ۲۳.۷ میلیونه وګړي بشري مرستو ته اړتیا لري، تر اوسه د مۍ تر ۱۵ نېټې پورې، د ۲۰۲۴ کال لپاره د افغانستان د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان د ۱۷.۳ میلیونه وګړو لپاره د اړتیا وړ ۳.۰۶ بیلیون ډالرو څخه یوازې ۱۶.۲ سلنه ترلاسه کړې.

#### الف. سیاسي تحولات

۴.  د برحاله چارواکو د جوړښت په داخل کې د حکومتولۍ د موضوعاتو په اړه ضد و نقیض نظرې موجود وې. په دغې موده کې د کابینې د کم شمېر ناستو په ترسره کولو، داسې تر سترګو کېږي چې د حکومتولۍ مرکز د کندهار په لور بدلون کوي او

د طالبانو مشر هیبت الله اخندزاده په کابل د حکومتولۍ پر پروسه پراخ نفوذ اعمالوي. برحاله سیاسي کمیسیون په کابل کې د برحاله رئیس الوزراء د سیاسي چارو د مرستیال عبد الکبیر په مشرۍ شپږ ناستې ترسره کړې چې د کورنیو، سیمه ییزو او نړیوالو موضوعاتو په اړه یې خبرې اترې ترسره کړې.

۵. د برحاله چارواکو مشرتابه پر اړیکو متمرکز و چې د چارواکو او مختلفو ټولنو ترمنځ واټن له منځه یوسي او د هغوي ملاتړ ترلاسه کړي. په هغو ویناوو کې چې د هیواد په کچه له مدرسو څخه د فراغت په مرسمو کې ترسره شوي، د برحاله رئیس الوزراء د سیاسي مرستیال، برحاله د کورنیو چارو وزیر سراج الدین حقاني، د لوړو زده کړو وزیر ندا محمد ندیم او د اقتصاد وزیر قاري دین محمد حنیف په ګډون برحاله چارواکو پر ملي یوالي تمرکز کړی، چې د دواړو عصري او دیني زده کړو پر ودې یې ټینګار کاوه او افغان وګړي یې مدرسو ته د خپلو ماشومانو د استولو لپاره هڅول.

۶. د مدني ټولنې او سیاسي فعالیت لپاره فضا لا زیاته محدوده شوې. د اپریل پر ۷ نېټه، برحاله عدلیې وزارت یو ځل بیا پر سیاسي ګوندونو او ټولنیز ادارو د بندیز یادونه وکړه او خبر یې ورکړ چې دوه سیاسي ګوندونه او ۷۵ ټولنیزې ادارې د ناقانونه فعالیتونو له امله برحاله امنیتي اداره ته پېژندل شوي. د راپور ورکولو په موده کې د اسلامي حزب د مشر ګلبدین حکمتیار، د برحاله چارواکو پر مشرتابه باندې یو زیات نېوکه کوونکی، په ګډون د تېر جمهوریت په دورې پورې د اړوندو چارواکو ملکیتونه ضبط شوي.

۷. د برحاله تصفیې کمیسیون د کړنو له امله ځایي کشمکشونه راپورته شوي. دغه کمیسیون ته دا دې دنده سپارل شوې د طالبانو هغه غړي په ګوته او له امنیتي ادارو څخه ګوښه کړي څوک چې له برحاله چارواکو سره د ټراو مشخص شرایط نه پوره کوي. د اپریل پر ۲ نېټه، رسینو خبر ورکړ چې د لوړ پوړو برحاله چارواکو ترمنځ د نوموړي کمیسیون له خوا د مشخصو غړو د لرې کولو له امله لفظي شخړه رامنځ ته شوې. د اپریل پر ۳ نېټه، یو شمېر ویډیوګانې پر ځایي رسنیو خپرې شوې، چې یو ډله یې ښودل چې د کمیسیون له لورې صادر شوې تصدیق پاڼې یې سوځولې او د کمیسیون دغه پروسه یې د خپلو تېرو لسیزو هلو ځلو ته سپکاوی ګڼه.

۸. په تبعید کې د سیاسي آپوزیسیون ډلو خپل پیغامونه له برحاله چارواکو سره پر نه تعامل متمرکز کړي وو. د ملي مقاومت د شورا په ګډون ځینو یې په ملي کچه د وسله وال آپوزیسیون په ملاتړ خپل غږ پورته کړی.

۹. برحاله چارواکو د مدرسې [دیني] زده کړو غښتلي کول جاري ساتلي. د ۲۰۲۳ کال په ډسمبر کې د هیواد په کچه د مدرسو د ارزونې په تعقیب، د مارچ پر ۳ نېټه، برحاله د پوهنې وزارت د مدرسو د ملکي پراختیا لپاره یو ریاست تاسیس کړ څو د مدرسو مدیریت او د ښوونکو ظرفیت بهتر کړي. همدارنګه، د راپور ورکولو په موده کې د خصوصي مدرسو د ۶۴۰۰۰ فارغینو لپاره د ازموینو په ترسره کولو سره یې د خصوصي مدرسو د زده کړو د معیاري کولو لپاره هم ګامونه پورته کړي، څو معلومه کړي چې آیا دوي په دیني زده کړو کې د لیسانس یا ماسټرۍ درجې ترلاسه کړي دي. د مدني ټولنې ځینې فعالین او اکاډمیک شخصیتونه دغه ازموینې په ملکي خدمتونو کې د احتمالي استخدام څخه مخکې د طالبانو غړو او اړوندو کسانو د اعتبار د پیاوړي کولو لپاره یو تمرین ګڼي. د فبروري له ۵ څخه د مې تر ۱۵ نېټې پورې، د برحاله چارواکو له خوا پر مخ وړل کېدونکې ۱۹ مدرسې، د ښځو لپاره د ۶ هغو په ګډون، پرانیستل شوې، او د برحاله چارواکو له خوا پر مخ له وړل کېدونکو مدرسو څخه ۱۷۹۸ دیني عالمان فارغ شول. د برحاله چارواکو استازو په رسنیو کې د دې ډاډ ورکړی چې مدرسې له ۱۲ کلنۍ له پورته عمر نجونو لپاره د زده کړو د دوام فرصت برابروي. له دې سره سره، د هغو نجونو د شمېر چې له دغو فرصتونو ګټه پورته کوي، یا

د وړاندې شوي نصاب په اړه کره معلومات د دغو ادارو د نه مرکزيتوب او نه معيارتوب او د معلوماتو د شريکولو لپاره د برحاله چارواکو د نه ليوالتيا له امله نا مشخص پاتې دي.

۱۰. د مارچ پر ۳۱ نېټه، د طالبانو مشر برحاله ماليې وزارت ته حکم وکړ چې د برحاله ملکي مامورينو او نظامي پرسونلو له مياشتنيو معاشونو څخه د تقاعد کسر وځنډوي. دغه حکم نه د شاو خوا ۱۷۰۰۰۰ متقاعدينو په اړه څه يادونه کړې، سره له دې چې په تېر کې يې له معاشونو څخه د تقاعد کسر ترسره شوي او لا تر اوسه د تقاعد امتيازات نه ترلاسه کوي، نه هم د اوسنيو برحاله ملکي مامورينو د تقاعد د احکامو په اړه څه توضيح وړاندې کوي. د اپريل پر ۲۰ نېټه په کابل کې، برحاله امنيتي ځواکونو د شا و خوا ۱۰۰ تقاعد شويو ملکي مامورينو او د پخوانيو وسله والو ځواکونو د غړو غونډه چې د تقاعد غوښتنه يې کوله تيت کړه.

۱۱. يو شمېر منصبونه ډک يا بدل شوي. په ملي کچه، په دغو کې درې برحاله مرستيال وزيران، يو نوي د وياند مرستيال او په برحاله وزارتونو کې ۱۴ رئيسان شامل دي. په ځايي ګمارنو کې څلور واليان، يو مرستيال والي، نهه ځايي رئيسان او اوو ولسوالان شامل دي. په امنيتي سکتور کې په ګمارنو کې يو د ولايتي امنيې قوماندان مرستيال، د يوه ولايتي مرکز لپاره د امنيه قوماندان مرستيال او درې د ولسواليو امنيه قوماندانان شامل دي. د مۍ پر ۱۱ نېټه، په برحاله قضائيه برخه کې ۱۷ نوې ګمارنې ترسره شوې په داسې حاله کې چې ۴۵ منصبونه تغيير او تبديل شوي.

۱۲. د اساسي قانون په نشتون کې هغه حقوقي چوکاټ د کوم له لارې چې برحاله چارواکي تنظيميږي نا مشخص پاتې دی. د مارچ پر ۱۳ نېټه، برحاله وياند ذبيح الله مجاهد د اساسي قانون نشتون او د نړيوال رسميت نه پېژندل د کابينې د نه رسمي کولو د لاملونو په څېر په ډاګه کړل. په ورته وخت کې، د مارچ پر ۳۰ نېټه، د مدرسې شاګردانو او ديني علماؤو غونډې ته د وينا پر مهال، برحاله د عدليې وزير عبد الحکيم شرعي د قانوني تشې د موجوديت پر ادعاوو نيوکه وکړه او استدلال يې کاوه چې د برحاله چارواکو له خوا تطبيق شوي قوانين له قران، سنتو او حنفي فقهې څخه رامنځ ته شوي. د هغه د کوچني اختر د خطبې پرمهال، د طالبانو مشر هغه اساسي قانون ته اشاره وکړه چې د تدوين په حال کې دی.

۱۳. د مارچ پر ۲۶ نېټه، برحاله عدليې وزرات د ۱۴۴۴ شمېره رسمي جريدې چې اوو حکمونه او يو قانون لري، د خپريدو اعلان وکړ. قانون د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت لپاره د شکايتونو او تحقيقاتو طرز العمل تاسيس کړی څو هغه شکايتونه وڅيړي چې د خلکو له خوا د قاضيانو په ګډون د برحاله منسوبينو په ضد راپور شوي. برحاله عدليې وزارت دغه راز خبر ورکړ چې له ۱۶۰ زيات قوانين لا اوس د طالبانو د مشر تائيد ته په تمه دي. د مارچ پر ۱۳ نېټه، برحاله رئيس الوزراء محمد حسن اخوند يوه کمېټه وټاکله چې په برحاله د عامې روغتيا په وزارت کې د اداري فساد ادعاوې وڅيړي. د اپريل پر ۲۰ نېټه، برحاله عدليې وزارت اعلان وکړ چې په ټول هيواد کې يې د مدافع وکيلانو ۲۰۰۰ دفترونه ثبت کړي. د فبروری له ۱ نېټې څخه د مۍ تر ۱۴ پورې، يوناما ټولټال ۱۸ ځايي شخړې ثبتې کړي کومې چې د ځايي ټولنو د مشرانو، ديني علماؤو يا د برحاله چارواکو په منځګړيتوب په ۱۳ ولايتونو کې حل شوي.

۱۴. د فبروري له ۵ نېټې څخه د مۍ تر ۱۵ پورې، د يوناما ساحوي دفترونو د رسيدنې ۷۳ فعاليتونه ترسره کړي چې مختلف فعالين په کې شامل وو. دغه فعاليتونو پر راتلونکو برخو متمرکز وو: (الف) په هيواد کې سياسي، امنيتي او ټولنيز-اقتصادي تحولات؛ (ب) د برحاله چارواکو، مدني ټولنې او ځايي ټولنو ترمنځ د اړيکو او باور رامنځ ته کول څو د بنسټيزو خدمتونو د وړاندې کولو په څېر د ګډې اندېښنې موضوعاتو ته رسيدګي وشي؛ (ج) د اقتصادي ځواکمنتيا او شبکه جوړونې په ګډون د

ښځو، سولې او امنیت موضوعاتو ته رسیدګي کول؛ (د) د پایښت لرونکو محیطي تمریناتو او ساتنې د نوښتونو ملاتړ کول؛ (هـ) په مدني فضا کې د ځوانو خلکو ګډون؛ او (و) د شخړو له مخنیوي او مدیریت سره مرسته کول.

۱۵. د مې پر ۲۱ نېټه، برحاله ویاند اعلان وکړ چې د طالبانو مشره د ۱۴۰۳ (۲۰۲۴) مالي کال کوم چې په مارچ کې پیل شوی، بودجه تصویب کړه، او له اضافي معلوماتو له وړاندې کولو پرته یې په ډاګه یې کړه چې دغه بودجه د دولت له عوایدو جوړه شوې او په "بشپړ شفاف ډول" او "له معیاري طرز العملونو سره سمه" به تنظیم شي.

۱۶. د مې له ۱۸ تر ۲۱ نېټې پورې، په سیاسي او سوله جوړونه کې د عمومي منشي مرستیال له کابل څخه لیدنه وکړه او د برحاله چارواکو، د مدني ټولنې د استازو او په کابل کې د میشتو ماموریتونو په ګډون یې له اړونده شریکبانو سره لیدنه وکړه. هغې په دوحه کې د جون له ۳۰ د جولای تر ۱ نېټې پورې د ځانګړو استازو د ناستې په اړه خبرې اترې ترسره کړې، چې په پام کې وه چې په لا زیات منسجم، همغږي او منظم ډول نړیوال تعامل زیات کړي، لکه څرنګه چې یې د امنیت شورا په ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) شمېره پرېکړه لیک کې هڅونه شوې وه. هغې همدارنګه د بشري حقونو وضعیت په تېره بیا د ښځو او نجونو و د ښځینه وو پر زده کړو محدودیتونه مطرح کړل.

**ب. امنیت**

۱۷. د فبروري د ۱ او د مې د ۱۳ نېټو ترمنځ، ملګرو ملتونو 2505 امنیتي پېښې ثبتې کړي، چې په ۲۰۲۳ کال کې له ورته مودې سره ۵۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د نشه یي توکو اړوند پېښې له ۲۱۲ څخه ۴۱۸ ته لوړې شوي چې د نشه یي توکو اړوند پېښو کې ۹۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي، چې ډېر زیاتوالی په مرکزي، شمال ختیځو، جنوب ختیځو او جنوبي سیمو کې رامنځ ته شوی. دا تر یوه حده د برحاله چارواکو د هڅو له امله و چې د حاصل ټولولو فصل په نږدې کېدو سره د کوکنارو پر کښت بندیز تطبیق کړي. د ځمکو پر سر شخړې په ۲۰۲۳ کې د ورته مودې پرمهال له ۲۰ پېښو څخه ۵۱ هغو ته لوړې شوې. د ځمکو پر سر زیاتره شخړې په جنوبي (۱۵ پېښې) او ختیځو سیمو (۱۰ پېښې) رامنځ ته شوې. وسله والې نښتې د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې د 75 پېښو په پرتله ۱۰۶ هغو ته لوړې شوې، او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو چاودنې له ۲۹ څخه ۱۹ ته ۳۴ سلنه راکمې شوي.

۱۸. وسله وال آپوزیسیون د طالبانو پر ځمکنۍ حاکمیت لپاره کوم د پام وړ ننګونه نه رامنځ ته کوي. د راپور ورکولو په موده کې دوه مخالفو ډلو تائید شوي بریدونه ترسره کړي: د افغانستان د آزادۍ جبهې او د ملي مقاومت جبهې. دواړو ډلو په کابل ښار کې د برحاله چارواکو پر امنیتي ځواکونو باندې پر برید کولو تمرکز کړی. د افغانستان د آزادۍ جبهې د راپور ورکولو د تېرې مودې د تایید شویو ۲۴ بریدونو په پرتله ۱۴ بریدونه ترسره کړي چې ټول هغه یې په کابل کې ترسره شوی. د ملي مقاومت جبهې تایید شوي ۲۹ بریدونه ترسره کړي چې ۲۰ یې په کابل، ۶ یې په تخار ولایت، ۲ یې په بغلان کې او ۱ هغه یې په پروان ولایت کې ترسره شوي. د فبروري پر ۲۶ نېټه، یو برید چې مسؤولیت یې د ملي مقاومت جبهې له خوا پر غاړه اخیستل شوي د کابل د نړیوال هوایي ډګر پر نظامي زون ترسره شو. د راپورونو له مخې بریدګرو د چورلکو د ناستې پر ساحه درې هاوانونه وتوغول، چې د کوم تایید شوي زیان یا مرګ ژوبلې لامل نه دي شوي. دواړو ډلو د برحاله امنیتي ځواکونو پر وړاندې د غلچکي بریدونو تاکتیکونه کارولي، چې په ۲۲ بریدونو کې یې لاسي بمونه او په اوو نورو کې یې د لاس جوړ چاودیدونکي توکي کارولي.

۱۹. د فبروري د ۲۸ او د مې د ۱۵ نېټو ترمنځ، د عراق او شام اسلامي دولت-خراسان ولایت ډلې د راپور ورکولو په موده کې شپږ بریدونه ترسره کړي چې په څلورو مواردو کې برحاله چارواکي په نښه کړي. د مارچ پر ۲۱ نېټه، په نوموړې ډلې پورې

اړوند یوه شخص په کندهار کې په ځان پورې تړلې چاودیدونکې توکي وچول چې د برحاله چارواکو هغه غړي یې په نښه کړل څوک چې د خپل معاشونو د ترلاسه کولو لپاره منتظر وو. دغه برید د برحاله امنیتي ځواکونو لږ تر لږه ۲۵ غړي ووژل او ۴۵ نور غړي یې او پنځه ولسي وګړي یې ټپیان کړل. د اپریل پر ۱۱ نېټه، د عراق او شام اسلامي دولت-خراسان ولایت ډلې په کابل ولایت کې د اپریل پر ۹ نېټه د تیلو ټانکرونو ته د اور ورته کولو مسوولیت پر غاړه واخیست. نوموړې دغه راز په کابل کې د هغه بس په وراندې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د اپریل د ۲۰ نېټې د چاودنې مسؤولیت پر غاړه واخیست کوم چې شیعه مذهبه ولسي وګړي لیږدول، چې له امله یې څلور ولسي وګړل ژوبل شول. د اپریل پر ۲۹ نېټه، نوموړې ډلې په هرات ولایت کې پر شیعه مذهبه ولسي وګړو د بل برید مسوولیت واخیست، چې لږ تر لږه شپږ ولسي وګړي یې ووژل او یو بل یې ټپي کړ. په خپلو تبلیغاتو کې، د عراق او شام اسلامي دولت-خراسان ولایت ډله د نړیوالې ټولنې ګواښل جاري ساتلي په داسې حاله کې چې په پراخه کچه په سیمه کې خپل بریدونه پراخوي. برحاله امنیتي ځواکونو په نوموړې ډلې پورې د اړوندو کسانو یو لړ هدفي نیونې ترسره کړې.

۲۰. د راپورونو له مخې پر افغان خاوره د تحریک طالبان پاکستان غړو د شتون له امله له پاکستان سره د پولې په اوږدو کې کشمکشونو دوام درلود. د مارچ پر ۱۸ نېټه، پاکستان په خوست او پکتیکا ولایتونو کې پر دوو موقعیتونو چې ادعا یې کولو د حافظ ګل بهادر ډلې پورې تړلي وو، هوایي بریدونه ترسره کړل. تر بریدونو وروسته، برحاله امنیتي ځواکونو او پاکستاني ځواکونو په پکتیکا او پکتیا ولایتونو د پولې په اوږدو کې یو پر بل ډزې وکړې، چې له امله یې په پکتیکا د انګور اډې دروازه وتړل شوه. د راپورونو له مخې د راپور ورکولو په موده کې د ټي ټي پي غړو یا نورو اړوندو ډلو له پکتیا څخه د پاکستان په خاوره کې پر پاکستاني ځواکونو لږ تر لږه په ۱۳ مختلفو مواردو کې ډزې کړي، په داسې حال کې چې د راپورونو له مخې د اپریل پر ۲۲ نېټه د ټي ټي پي غړو همدارنګه پر یوه پاکستانۍ پوسته چې د خوست ولایت سره پر پوله پرته وه، برید وکړ.

۲۱. برحاله چارواکو د کوچینو او سپکو وسلو د ناقانونه تراکم او انحراف ته د رسیدګۍ په پار خپلې هڅې جاري ساتلي او په پنځو ولایتونو کې د وسلو د ادعا شویو قاچاق کوونکو د نیونې خبر ورکړی. د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر پر ۱۸ نېټه د وسلو د ثبت په اړه د طالبانو د مشر له حکم راهیسې، برحاله چارواکو په ګڼ شمېر ولایت کې د برحاله امنیتي ځواکونو د غړو لپاره د وسلو د ثبت کمپاین ترسره کړی.

۲۲. د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ د ۱ نېټې او د مۍ د ۱۳ نېټې ترمنځ، ملګرو ملتونو د غلا یا شوکې د ۱۳، د ځورونې یا تهدید د ۷، د نیونې ۲، د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د چاودنې د ۱ او ۸ نورو پېښو په ګډون د خوندیتوب او امنیتي ۳۱ پېښې مستند کړې. په کابل کې د مارچ پر ۴ د ملګرو ملتونو ودانیو ته د استخباراتو د لوي ریاست د غړو د په زوره ننوتلو په ګډون اوو نورو پېښو د ملګرو ملتونو کمپاونډونه، دفترونه او ملکیتونه اغیزمن کړي. دا د ۳۰ هغو پېښو په پرتله چې د راپور ورکولو په تېره موده کې ثبتې شوې، یو څه زیاتوالی په ډاګه کوي.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۲۳. سیمه ییزو سازمانونو د افغانستان په اړه دوه اړخیز تعامل جاري ساتلی. د اپریل پر ۳ نېټه په آستانا کې، د شانګهای همکارۍ د سازمان د امنیت شورا سکرترانو پر برحاله چارواکو غږ وکړ چې له تروریستي سازمانونو په مبارزه کې خپل مکلفیتونه پوره کړي.

۲۴. د برحاله چارواکو لوړ رتبه منسوبینو له هیواد څخه بهر خپل سفرونه جاري ساتلي چې سیمه ییزو هیوادونو سره دوه اړخیز تعامل ترسره کړي. د مارچ له ۳ تر ۷ نېټې پورې برحاله دفاع وزیر محمد یعقوب مجاهد د یوه پلاوي په مشرۍ دوحې ته

لاړ چېرې چې يې د وسلو په يوه نندارتون کې ګډون وکړ او د قطر له امير، شيخ تميم بن حماد الثاني، د امير له مرستيال، عبد الله بن حماد الثانی، او د دفاع له وزير خالد بين محمد العطيه سره وليدل. د فبروري له ۲۵ تر ۲۸ نېټې پورې، برحاله د بهرنيو چارو وزير امير خان متقي له عشق آباد څخه ليدنه وکړي چېرې چې هغه د ترکمنستان د رئيس الوزراء له مرستيال او بهرنيو چارو وزير راشد مرادوف سره وليدل. د مارچ له ۱۶ تر ۲۰ نېټې پورې، برحاله د حج او اوقافو وزير نور محمد ثاقب د ازبکستان د مسلمانانو د دفتر د رئيس شيخ نور الدين خليق نزاروف په بلنه له ازبکستان څخه ليدنه وکړه چې په ديني او ښوونيزو چارو کې دوه اړخيزې اړيکې او همکاري پياوړې کړي. د مې له ۴ څخه تر ۵ نېټې پورې برحاله د کورنيو د وزارت وياند عبد القاهر بلخي په بانجول کې د اسلامي همکاريو د سازمان د پنځلسمې ناستې په سرمشريزه کې د ګډون په موخه د يوه پلاوي مشري وکړي. د بانجول په پرېکړه ليک کې، ګډونوالو د ټولو افغانانو بشري حقونو د بشپړ درناوي پر اهميت او د افغان نجونو او ښځو د بنسټيزو حقونو په تېره بيا د زده کړو او کار حق د ساتنې پر اړتيا ټينګار وکړ. د مې له ۱۳ تر ۱۴ نېټې پورې، برحاله د حج او اوقافو وزير د اسلامي نړۍ د علماؤو په مشورتي ناسته کې ګډون وکړ، کوم چې د ترکيې په استانبول کې ترسره شوه. د مې له ۱۴ تر ۱۹ نېټې پورې، برحاله د سوداګرۍ او صنايعو وزير نور الدين عزيزي قازان، روسيې فدراسيون ته سفر وکړ څو په پنځلسم نړيوال اقتصادي فورم "روسيا – اسلامي نړۍ:قازان فورم" کې ګډون وکړي.

.۲۵ سيمه ييزو استازو هم له افغانستان څخه ليدنې ترسره کړې څو له برحاله چارواکو سره تعامل وکړي. د فبروري له ۱۰ تر ۱۲ نېټې پورې، د روسيې فدراسيون د ولسمشر مشاور او اقليمي چارو په اړه د ولسمشر ځانګړي استازي روسلان ادلګرف په کابل کې د رئيس الوزراء د اقتصادي چارو له مرستيال عبد الغني برادرف، او برحاله د بهرنيو چارو له وزير سره وليدل، چې اقليمي بدلون په نړيوالو غونډو ځايونو کې د افغانستان د ګډون لپاره يې خپل ملاتړ په ډاګه کړ. د اپريل له ۱۹ تر ۲۳ نېټې پورې، د افغانستان لپاره د اسلامي همکاريو د سازمان د ځانګړي استازي طارق علي بخيت په مشرۍ د نوموړي سازمان پلاوي په کابل کې له برحاله رئيس الوزراء او نورو برحاله وزيرانو سره وليدل. د اپريل پر ۲۳ نېټه، د افغانستان لپاره د روسيې فدراسيون د ولسمشر ځانګړي استازي ضمير کابلوف په کابل کې له برحاله بهرنيو چارو له وزير او کورنيو چارو له وزير سره خبرې اترې ترسره کړې څو په افغانستان کې ننګونو ته رسيدګي وکړي.

.۲۶ اقتصاد، سوداګري او ترانزيت د سيمه ييز تعامل د سر موضوعات ګڼل کېږي. د فبروري پر ۲۰ نېټه، برحاله د افغانستان د اوسپنې پټلۍ ادارې مشر په تاشکند کې د ازبکستان د ترانسپورت له وزارت سره د افغان-ترانز د شونتيا د څېړنې د ترسره کولو يو تفاهم ليک لاسليک کړ. د مارچ له ۱ تر ۶ نېټې پورې، برحاله د سوداګرۍ او صنايعو وزير له ترکمنستان څخه ليدنه ترسره کړي چې د سوداګرۍ او ترانزيت اړوند موضوعاتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي او د ۱۵ افغان ښځينه متشبثينو په ګډون يې د يوه پلاوي مشري کړي څو په عشق آباد کې د افغانستان-ترکمنستان په سوداګريز نندارتون کې ګډون وکړي. د مارچ پر ۷ نېټه، د هندوستان د بهرنيو چارو په وزارت کې د پاکستان، افغانستان او د ايران د اسلامي جمهوريت د ګډ سکرتر جې پي سنګ په مشرۍ يوه پلاوي له کابل څخه ليدنه وکړه او له برحاله د بهرنيو چارو او سوداګرۍ له وزيرانو سره يې وليدل څو د سوداګرۍ او ترانزيت په اړه خبرې اترې وکړي. د مارچ پر ۱۲ نېټه، د ازبکستان د بهرنيو وزير بختيار سعيدوف په مشرۍ يوه پلاوي له کابل څخه ليدنه وکړه او د برحاله رئيس الوزراء، برحاله د بهرنيو چارو وزير او برحاله د کورنيو چارو د وزير په ګډون له برحاله چارواکو سره وليدل څو د کرنې، ترانسپورت او امنيت په برخو کې د دوه اړخيزې همکارۍ په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د مارچ پر ۲۸ نېټه، برحاله د سوداګرۍ او صنايعو وزارت په مارچ کې د پاکستان د سوداګرۍ د وزير خرم اغا له ليدنې وروسته له پاکستان سره د سوداګرۍ او ترانزيت د موضوعاتو په اړه د نهه نقطه ييز تړون د لاسليک کولو خبر ورکړ. د مې پر

۱۲ نېټه، برحاله د افغانستان د اوسپنې پټلۍ د اداري مشر او د هغه ازبک سيال په بلخ ولايت کې د سوداګريز لوژيستکي دهليز د تاسيس تفاهم ليک لاسليک کړ. د مۍ پر ۲۱ نېټه، د ترکش هوايي شرکت کابل ته يو ځل بيا خپلې الوتنې پيل کړې.

۲۷. د فبروري له ۲۲ د مارچ تر ۲ نېټې پورې، د برحاله رئيس الوزراء د اقتصادي مرستيال د دفتر او برحاله وزارتونو له استازو جوړ يوه پلاوي له ايران اسلامي جمهوريت څخه ليدنه وکړه چې د چاه بهار په صنعتي زون کې د سوداګرۍ او پانګونې د فرصتونو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د نوموړي پلاوي دغه سفر له هغې وروسته ترسره شو کله چې د مارچ پر ۱۳ نېټه د ايران د کرنې وزارت مرستيال وزير علي رضا مهاجر له کابل څخه ليدنه وکړه څو د کوکنارو د بديلو فصلونو په ګډون په کرنه کې د دوه اړخيزې همکارۍ په اړه خبرې اترې ترسره کړي، او د مۍ له ۱ څخه تر ۳ نېټې پورې د ايران له اسلامي جمهوريت څخه برحاله د سوداګرۍ او صنايعو د وزير تر ليدنې وروسته چې په ګډه اقتصادي غونډه کې ګډون وکړي او د چاه بهار د بندر په ګډون د ترانزيت اړوند موضوعاتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۲۸. د اپريل په وروستيو کې، د قزاقستان د رئيس الوزراء مرستيال سيريک ژومنګارين او ترکمنستان د وزيران تر کابينې لاندې د ترانسپورټ او مخابراتو اداري رئيس مميتخان چاکيف د لوړې کچه برحاله چارواکو سره د د دوه اړخيز او درې اړخيز تعامل په پار له کابل څخه ليدنه وکړه. ښاغلي ژومنګارين همدارنګه د افغانستان-قزاقستان د سوداګريز نندارتون د پرانستې په مراسمو کې هم ګډون وکړ. تر دغه نندارتون وروسته د قزاق-افغان د سوداګرۍ د ګډې خونې د پرانستې مراسم د اپريل پر ۱۵ نېټه په هرات ولايت کې ترسره شول. د اپريل پر ۲۶ نېټه، دغو دواړو استازو او برحاله د سوداګرۍ او صنايعو وزير يوه درې اړخيزه ناسته ترسره کړه چيرې چې يې د سوداګرۍ او ترانزيت د موضوعاتو په اړه د ګډې تخنيکي کمېټې د تاسيس د پلانونو په اړه خبر ورکړ.

۲۹. يوناما له برحاله چارواکو او سيمه ييزو هيوادو سره سيمه ييزې همکارۍ ته وده ورکول جاري ساتلي، په کابل کې له ميشتو ډيپلوماتيکو ماموريتونو سره يې د همکارۍ منظمې ناستې ترسره کړې. د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړې استازې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي مشرې د اپريل له ۹ څخه تر ۱۰ نېټې پورې د روسيې له فدراسيون، د اپريل له ۱۷ څخه تر ۱۹ نېټې پورې له هندوستان او د مۍ له ۱۱ څخه تر ۱۴ نېټې پورې د ايران له اسلامي جمهوريت څخه ليدنې ترسره کړي څو په افغانستان کې د وضعيت او له برحاله چارواکو سره د ګن اړخيز تعامل د راتلونکو لارو چارو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

### دريم: بشري حقونه

۳۰. يوناما په ولايتي او مرکزي کچه د بشري حقونو يو لړ مسايلو په هکله له برحاله چارواکو سره تعامل او ګډ کار ته دوام ورکړی او له دوی سره يو ځای يې د بشري حقونو په برخه کې د عامه پوهاوي لوړولو يو شمېر غونډې جوړې کړې، چې په توقيف ځايونو کې د ربړونې او ناسم چلند د مخنيوي او د عادلانه محاکمې حقونو په ګډون موضوعات په کې تر بحث لاندې نيول شوي دي.

۳۱. د چاودېدونکو توکو په مرسته د ترسره شوو بريدونو په پايله کې لږ تر لږه ۹۸ ملکي وګړو ته تلفات اوښتي، چې په کې ۳۰ تنه چې ټول يې نارينه دي وژل شوي او ۶۸ تنه چې (۶۳ نارينه، ۴ ښځې او ۱ هلک په کې شامل دي) ټپيان شوي دي. همدارنګه د نا چاوده توکو په پايله کې هم ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې اکثريت يې ماشومان دي. د دغه ډول توکو د چاودنو په

پایله کې ۴۴ تنه وژل شوي (۳۶ هلکان او ۸ انجونې) او ۱۱۶ نور ټپیان دي (۹۹ هلکان او ۱۷ انجونې)، چې زیات شمېر دغه ډول پېښې له یادو توکو سره د ماشومانو د لوبو پر مهال رامنځته کېږي. د مارچ په ۳۱ نېټه په غزني ولایت کې د دوو کورنیو ۹ ماشومان (پنځه انجونې او څلور هلکان) هغه مهال ووژل شول چې د توپ یوه نا چاوده موندل شوې مرمۍ پرې وچاودېده.

۳۲. د مارچ په ۱۸ نېټه د پاکستان د پوځ په هوايي بریدونو کې په خوست او پکتیکا ولایتونو کې ملکي وګړو ته تلفات واوښتل، چې په پایله کې یې په خوست کې یو تن مړ او دوه تنه ټپیان شول او په پکتیکا ولایت کې د دوو مېرمنو، درې انجونو او دوه هلکانو په ګډون اووه تنه ملکي وګړي ووژل شول. په همدې ورځ ناوخته په پکتیکا ولایت کې د پاکستان د فوځ او برحال نظام د پوله ساتو ځواکونو ترمنځ جګړو کې څلور ملکي افغانان (درې ماشومان او یو سړی) ووژل شول او اووه تنه (دوه ماشومان، څلور ښځې او یو سړی) ټپیان شول. برحاله چارواکو د اعلامیې په خپرولو سره یاد بریدونه وغندل او دا یې پر افغان خاوره تیری وبللو. همدارنګه د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې د دې بریدونو موخه "هغه ترهګر دي چې دننه په پاکستان کې د څو ترهګریزو بریدونو د ترسره کولو مسؤل ګڼل شوي دي."

۳۳. د پخواني دولت چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړو د خپل سري نیونو او توقیف، ربړونې او ناسم چلند او غیر قانوني خپل سري وژنو ګواښونو راپورونه لا هم ورکول کېږي، سره له دې چې برحاله چارواکو عمومي بښنې ته خپله ژمنتیا په وار وار تکرار کړې ده. یوناما د فبروري او مې میاشتو ترمنځ موده کې د پخواني دولت چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړو د لږ تر لږه درې غیر قانوني وژنو، ۳۷ خپل سري نیونو او توقیف او د ربړونې او ناسم چلند څلور پېښې ثبت کړي دي. په ورته وخت کې یوناما د ملي مقاومت جبهې او داعش خراسان ډلو سره په اړیکو او همکارۍ تورنو افرادو د غیر قانوني وژنو شپږ پېښې، د خپل سري نیونو او توقیف ۳۵ پېښې او د ربړونې او ناسم چلند دوه پېښې ثبت کړي دي.

۳۴. برحاله چارواکو په فبروري میاشت کې په عام محضر کې درې تنه اعدام کړي دي. د دوی په خبره دا سزاګانې دوی د برحال نظام د دریو محکمو (ولسوالۍ محکمې، استیناف محکمې او سترې محکمې) لخوا د اعدام حکم کولو او د طالبان د مشر له تصویب او منظورۍ وروسته تطبیق شوي دي. همدارنګه د فبرورۍ په ۲۲ نېټه په غزني ښار کې دوه تنه د قتل په جرم په عام محضر کې اعدام شول. په ورته وخت کې د فبرورۍ په ۲۶ نېټه د جوزجان ولایت په شبرغان ښار کې یو تن د قتل په جرم په عام محضر کې اعدام شو. د یادونې وړ ده چې برحاله چارواکي لا هم په عام محضر کې قضایي بدني مجازات تطبیقوي، چې دغه ډول سزاګانې لږ تر لږه هره اونۍ په یو ولایت کې ترسره کېږي.

۳۵. د مېرمنو او انجونو حقونه او اساسي ازادۍ لکه زده کړو ته لاسرسی او ازاد تګ راتګ لا هم په جدي توګه تر بندیزونو لاندې دي. د مارچ په ۲۰ نېټه په افغانستان کې نوی ښوونیز کال له شپږم ټولګي پورته د انجونو په زده کړه د لګول شوي بندیز په دوام سره پیل شو. د برحال نظام د پوهنې وزارت لخوا د نوي ښوونیز کال د پیل په مراسمو کې د ګډون په موخه رسنیو ته په یو لیږل شوي بلنلیک کې ښځینه خبریالانو ته ځانګړې لارښوونه شوې چې د مېرمنو لپاره "د مناسب ځای نشتون" له کبله په یادو مراسمو کې ګډون ونکړي.

۳۶. د برحال نظام د اطلاعاتو او کلتور وزارت د مارچ په ۱۹ نېټه د خبریالانو ملي ورځې په مناسبت په کابل کې د خبریالانو ستاینغونډه جوړه کړې وه، او دا ورځ په بیلابیلو ولایتونو کې هم نمانځل شوې ده. خو سره له دې، د رسنیو کارکوونکي د حساسو راپورونو خپرولو له کبله د برحاله چارواکو لخوا په خپل سري توګه تر توقیف لاندې نیول کېږي. د اپریل په ۱۶ نېټه د بریا او نور په نوم د دوه تلویزیونونو خپرونې د ژورنالیستیکو معیارونو او اصولو څخه د سرغړونې په تور وځنډول شوې.

۳۷.	د راپور ورکونې مودې پر مهال، د څو ولایتونو اوسېدونکو عمومي اعتراضونه وکړل او له مالیاتو نیولې تر اوبو حقونو پورې یو لړ اقتصادي او معیشتي مسایلو په تړاو یې خپلې اندېښنې څرګندې کړې. زیات شمېر یې په سوله ایزه فضاء کې پای ته ورسېدل خو ځینې اعتراضونه بیا د امنیتي ځواکونو لخوا تیت و پرک شول. د یادو اعتراضونو له ډلې، د مارچ په ۳۱ نېټه د هلمند په ولایت کې هېڅ والو د برحال نظام د ښاروال لخوا وضع شوې مالیې پر وړاندې اعتراض وکړ او د یادې مالیې د نه ورکړې له امله د دوه بندي شوو هېوالو د خلاصون غوښتنه یې وکړه. د برحال نظام امنیتي ځواکونو د اعتراض کوونکو د تیت و پرک کولو لپاره هوایي ډزې وکړې او وروسته فزیکي نښته رامنځته شوه چې په کې دوی له پنځو نارینه اعتراض کوونکو سره د لرګو او ډبرو په کارولو سره ناسم چلند وکړ. همدارنګه د مې په ۳ او ۴ نېټه، د بدخشان په ارګو او درایم ولسوالیو کې د برحاله چارواکو لخوا د کوکنارو پر کرلو د بندیز له امله اعتراضونه وشول، چې پر اعتراض کوونکو د برحال نظام د امنیتي ځواکونو په ډزو کې دوه تنه (په هره ولسوالۍ کې یو تن) ووژل شول. برحاله چارواکو د مې په ۴ نېټه د یادو پېښو د تحقیق او څېړنې لپاره د یوې کمېټې د ټاکلو اعلان وکړ.

۳۸.	د برحال نظام د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د اپریل په ۱۴ نېټه له رسنیو سره په مرکه کې وویل چې په تېر کال کې یې د برحاله چارواکو پر وړاندې د عامو خلکو لخوا ۶۸۰۰ ترسره شوو شکایتونو ته رسېدنه کړې ده. همدارنګه د برحال نظام دې وزارت ځینې داسې پالیسۍ پلې کړي چې د وګړو د ځینو برخو پر معیشت اغېزه کوي. د بېلګې په توګه، د مارچ په ۳۱ نېټه په کندز ولایت کې د وېښتانو اصلاح دوکانونو څښتنانو د هغو اصولو او مقرراتو پر ضد لاریون وکړ چې د ږیرې په لنډولو او د وېښتانو په سټایلونو باندې وضع شوي دي، دوی دا کار د خپلو کاروبارونو پر زیان وباله. په یادو اعتراضونو کې د برحال نظام پولیسو له ځینو معترضینو سره ناسم چلند وکړ او لږ تر لږه پنځه تنه یې نیول شوي او د درې ورځو لپاره توقیف شوي وو.

۳۹.	بندیان لا هم په یو ننګوونکي وضعیت کې دي. د اپریل په ۸ د برحال نظام سترې محکمې د کوچني اختر په مناسبت د ۲۸۵۵ بندیانو د خلاصون او د ۱۴۲۰ تنو د بند مودې کموالي اعلان وکړ. د برحال نظام د زندانونو چارو د سمون ادارې د معلوماتو پر بنسټ، د اپریل تر پای پورې د ۴۰ بهرنیو وګړو په ګډون چې تر ډېره د ګاونډیو هېوادونو اتباع دي، شاوخوا ۱۷۰۰۰ تنه له دوی سره بندیان دي. مالي محدودیتونه او د ډونرانو لخوا د مالي تمویل نشتون هغه څه دي چې یاده اداره نشي کولای په دې برخه کې نړیوال معیارونه، لکه په سیستماتیکه توګه د کافي غذایي او حفظ الصحي موادو، مسلکي زده کړې او روزنې او روغتیایي اړتیاوو چمتو کول، پوره کړي.

۴۰.	د اپریل ۱۷ او ۲۳ نېټې ترمنځ موده کې د جنسیتي مساوات او ښځو د پیاوړتیا لپاره د ملګرو ملتونو ادارې (UN-Women)، د کډوالۍ نړیوال سازمان او یوناما په ګډه د هېواد په ۳۳ ولایتونو کې له ۸۸۸ افغان مېرمنو سره ډله ایزې او انفرادي سلا مشورې وکړې. همدارنګه په ۱۴ ولایتونو کې له ۶۴ سړو سره هم یادې سلا مشورې وشوې. مشوره شوو مېرمنو له ځایي برحاله چارواکو سره په تعامل کولو کې د ستونزو یادونه کړې ده، چې ۸۰ سلنه مېرمنو په تېرو دریو میاشتو کې د هیڅ ډول تعامل نشتون خبره کړې – چې د مشوره شوو سړیو په پرتله دوه برابره زیاتوالی ښیي. مېرمنو په عامه غونډو کې د دوی دوامداره نه ګډون او په پایله کې یې د کورنۍ پر نارینه غړي یا ټولنې غړو باندې د دوی د تکیه کولو تر څو د دوی په استازولۍ د دوی حقونو غوښتنه وکړي، خبره کړې ده. د ټولو هغو مېرمنو له ډلې چې سلا مشورې ورسره شوي، یواځې ۲ سلنه یې فکر کوي چې د ټولنې د تصمیم نیونې په مراجعو باندې " ښه" یا " بشپړ" نفوذ لري، په داسې حال کې چې ۱۸ سلنه نارینه بیا ورته خبره کوي. په ټولیزه توګه، د مشوره شوو مېرمنو له ډلې ۶۴ سلنه یې په دې فکر دي چې له کوره بهر یواځې وتلو کې ځانونه " هیڅ" خوندي نه احساسوی، په داسې حال کې چې ۲ سلنه سړي هم ورته نظر لري. هغه مېرمني او سړي چې مرکې ورسره شوي یو

شان ټینګار کوي چې د مېرمنو وضعیت ښه والي لپاره په کار ده چې نړیواله ټولنه له طالبانو سره د مېرمنو د مستقیمو خبرو اترو زمینه برابره کړي (په ترتیب سره ۴۵ او ۴۱ سلنه)، او په لویه کچه یې د " طالبانو په رسمیت پېژندنې" مخالفت کړی دی او یوائې په ترتیب سره ۴ سلنه او ۳ سلنه یې د دې کار ملاتړ کوي. زیاتره هغه مېرمنو او سړو چې مرکې ورسره شوې، له نړیوالې ټولنې غوښتلي چې د افغانستان د راتلونکي په هکله هر ډول نړیوالو مستقیمو او غېر مستقیمو غونډو کې د ښځو د استازو او د نورو افغان ګډونوالو ترځنګ د ۵۰ سلنه ونډې ورکولو له لارې، د ښځو د ګډون ډاډ ورکړي.

**څلورم: اقتصادي پراختیا، د تمویل کوونکو همغږي او د مرستو اغېزمنتوب**

۴۱. د افغانستان اقتصاد له دیفلاسیوني فشار سره مخ دی، چې د نورو لاملونو ترڅنګ یې عمده لامل د وارداتي توکو د بیو کموالی، په زیاته کچه د داخلي پولي واحد د ارزښت لوړېدل او د تقاضا کموالی دی. د ۲۰۲۴ کال تر فبرورۍ میاشت پورې عمومي انفلاسیون د کال په کال سنجش له مخې منفي ۹،۷ سلنې ته رسېدلی دی، په داسې حال کې چې اصلي انفلاسیون د کال په کال سنجش له مخې منفي ۳ سلنې ته رسېږي. په ورته وخت کې، د بودیجې کسر د کال په کال سنجش په اساس د ۲۰۲۳ کال له جنوري (۴۲۶ میلیونه امریکایي ډالر) څخه تر ۲۰۲۴ کال جنوري (۶۸۲ میلیونه امریکایي ډالر) پورې ۶۰ سلنه زیات شوی دی، ځکه چې په صادراتو کې د کال په کال سنجش پر بنسټ په جنورۍ میاشت کې ۵ سلنه کموالی راغلی دی، حال دا چې واردات بیا ۳۷ سلنه زیات شوي دي. د ۲۰۲۴ کال د مارچ په وروستیو کې افغانۍ د امریکایي ډالرو پر وړاندې په ۷۱،۶ افغانۍ تبادله کېده، چې د ۲۰۲۱ کال د اګسټ ۱۵ نېټې راهیسې یې ارزښت لا هم ۴،۲۰سلنه لوړ دی.

۴۲. د دولت عواید د روان مالي کال چې د ۲۰۲۴ کال په مارچ کې پای ته رسېږي، ۲،۹۵ میلیارده ډالرو (۲۱۰،۷ میلیارده افغانیو) ته رسیدلي، چې د تېر مالي کال په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی ښيي او د بودیجې لپاره د شاوخوا ۲،۹۴ میلیارده ډالرو (۲۱۰ میلیارده افغانیو) ټاکل شوي هدف څخه لوړ دی. د سرحدونو مالیات په تعرفو کې د کمښت او ارزښت ټاکنې ترتیباتو سربېره د وارداتو د زیاتوالي له کبله زیات شوي، په داسې حال کې چې ځمکني عواید، چې د ټولو عوایدو ۴۹ سلنه جوړوي، په تېر کال د ۴۵ سلنې په پرتله ۱۳ سلنه زیات شوي دي. د دې پرمختګ لامل د قوانینو او مقررو رعایتول او د مالیې ورکولو وړ شتمنیو او عوایدو زیاتوالی ښودل شوی دی.

۴۳. د نړیوال بانک لخوا د خصوصي سکتور سروې دریم پړاو د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۱۹ خپور شو او د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې تطبیق شوه، چې د راپورونو له مخې هغه تصدۍ او شرکتونه چې په بشپړه توګه فعال دي د ۲۰۲۲ کال په سپټمبر کې د ۲۸ سلنې په پرتله د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې ۵۷ سلنې ته زیات شوي دي. که څه هم، د تقاضا ټیټوالی، بانکي ستونزې او د راتلونکي په اړه نا ډاډمنتیا د کاروبارونو پر وړاندې کلیدي محدودیتونه دي. د ښځینه متشبثینو په اړه د نړیوال بانک سروې او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام سروې، چې د اپریل په ۱۶ خپره شوې او په ۲۰۲۲ او ۲۰۲۳ کال کې د معلوماتو راټولولو کړنو او د ۲۰۲۴ کال د کمې سروې پر بنسټ ترسره شوې، دا په ډاګه کړې چې ښځینه سوداګرې د نارینه متشبثینو په پرتله مالي تمویل او بازارونو ته په لاسرسي کې د پام وړ لویو ننګونو او همدارنګه د ټکانونو له زیان منو سره مخ دي. د بېلګې په توګه، ۳۲ سلنه ښځینه متشبثین چې سروې یې شوې ده، په دې باور دي چې جنسیتي تبعیض بازار ته د دوی د لاسرسي مخه نیولې، په ترتیب سره ۲۸ سلنه او ۱۹ سلنه بیا وایي چې د توکو او موادو په تدارک او رسمي او غیر رسمي پورونو ته د لاسرسي په درلودلو کې له ننګونو سره مخ وې.

۴۴. برحاله چارواکو د زېربناوو رغولو، خصوصي پانګونو او کورني تولید زیاتوالي له لارې د اقتصادي خپلواکۍ او ځان بسیاینې تګلارې پر پلي کولو باندې تمرکز ساتلی دی. د مارچ په ۲۱ نېټه د برحال نظام د کانونو او پټرولیم وزارت راپور ورکړ چې په روان مالي کال کې چې د ۲۰۲۴ کال په مارچ کې پای ته رسېږي، ۵۰ کوچني او ۱۵ لوی کانونه شرکتونو ته په قرارداد ورکړي دي. همدارنګه د مې میاشتې په ۱ نېټه د ریاست الوزراء دریو معاونیتونو په ګډه په کابل کې د افغان کرنیزو تولیداتو یو نندارتون پرانیست. په ورته وخت کې، د اپریل په ۱۳ نېټه رسنیو خبر ورکړ چې د برحال نظام د سوداګرۍ او صنعت وزارت راپور ورکړی چې افغانستان په ۴۵ اقتصادي سکتورونو کې په ۱۳۳ تولیدي اقلامو کې ځان بسیاینې ته رسېدلی دی.

۴۵. اپریل په ۶ نېټه د برحال نظام مرکزي بانک د کوچنیو پورونو د سکتور نوې مقرره خپره کړه چې له اسلامي اصولو او د پیسو وینځلو او ترهګرۍ د تمویل چوکاټ سره سمون لري. همدارنګه یاد بانک د فبرورۍ په ۱۲ د افغانستان بانک د خطرونو او قانون د رعایت کمېټې د جوړېدو اعلان وکړ، چې موخه یې د خطرونو راکمول او د ملي او نړیوالو قوانینو او مقررو رعایتول دي.

۴۶. د مارچ په ۶ او ۷ نېټه د افغانستان د همغږۍ ډلې چې له ډونرانو او نړیوالو مرستندویانو څخه تشکیل شوې، د اروپايي ټولنې، یوناما او نړیوال بانک په ګډه همغږۍ د ترکیې په استانبول ښار کې غونډه وکړه. دغې ډلې د بسپنه ورکوونکو د مالي تمویل کمېدو اندېښنو څرګندولو سربېره د اساسي انساني اړتیاوو پوره کولو لپاره د نړیوالو مالي بنسټونو د نویو مرستو هرکلی وکړ. د دغې غونډې ګډونوالو د امنیت شورا د ([۲۶۷۹ (۲۰۲۳)](#)) ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ ترسره شوې خپلواکې ارزونې وروسته خپور شوی راپور او همدارنګه د ۲۰۲۴ کال په فبروري میاشت کې په دوحه کې د افغانستان لپاره د ځانګړو استازو غونډه او په دې بنه کې د راتلونکو نورو غونډو لپاره پلانونه مثبت وبلل. همدارنګه د افغانستان همغږۍ ډلې غړو د مارچ په ۴ نېټه په استانبول کې د خطرونو مدیریت په تړاو یو ورکشاپ کې چې د ملګرو ملتونو او نړیوال بانک لخوا په ګډه جوړ شوی و، ګډون وکړ. د دغه ورکشاپ ګډونوالو د روانو هڅو په اړه معلومات او تازه جزئیات شریک کړل ترڅو په سمه توګه او مستحقو کسانو ته د مرستو نه رسېدو او جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې په ګډون ځینې خطرونه په ګډه مدیریت کړي.

۴۷. ملګرو ملتونو او همکارو ادارو د مې میاشتې په ۱۵ نېټه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي ځانګړې استازې مرستیال او میشت او د بشري مرستو همغږي کوونکې او د برحال نظام د بهرنیو چارو وزیر په ګډه مشرۍ په کابل کې له برحاله چارواکو سره غونډه وکړه، چې د برحاله چارواکو، ملګرو ملتونو او همکارو ادارو ترمنځ ډیالوګ او ګډې همکارۍ پر زیاتوالي باندې متمرکزه وه. په دغه غونډه کې د افغان وګړو بشردوستانه او اساسي انساني اړتیاوو پوره کولو او پیاوړتیا زیاتوونکو فعالیتونو د ملاتړ کولو په موخه د هڅو همغږي کولو، په شفافه توګه مرستو رسولو او د موجوده ډیالوګ پر اړتیا باندې بحث او خبرې اترې وشوې.

۴۸. د افغانستان لپاره ځانګړي اماني صندوق چې د ۲۰۲۱ کال په اکتوبر کې رامنځته شوی و، د ۲۰۲۴ کال تر اپریل میاشتې پورې ۲۱۲،۹ میلیونه امریکايي ډالر مرستې راټولې کړې دي. د یاد صندوق مدیره پلاوي د مارچ په ۵ نېټه یو ستراتېژیک سند تصویب کړ چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ستراتیژیکې اړانې ۲۰۲۳-۲۰۲۵ سره سم یې د ۲۰۲۴-۲۰۲۵ کلونو مودې لپاره خپل لومړیتوبونه پکې بیان کړي دي، چې تر ټولو مهم او کلیدي یې جنسیتي برابري او د ښځو ځواکمنتیا، د راستنېدونکو لپاره پایداره حل لارې او د اقلیمي بدلون سره برابرښت دي. همدارنګه د یاد صندوق مدیره پلاوي د هرات زلزلې قربانیانو سره د مرستې لپاره ۸ میلیون ډالره، د ښځو په مشرۍ مدني ټولنو د پیاوړتیا لپاره ۱،۲ میلیون ډالره او د سویل ختیځ افغانستان د ګډ سیمه ایز پروګرام لپاره ۱۷،۴ میلیون ډالره (دویم قسط) تخصیص تصویب کړی دی. د نړیوال بانک عامل پلاوي د اپریل په ۳۰ نېټه د افغانستان د ټولنیزې پیاوړتیا او معیشت پروژې لپاره د نړیوالې پرمختیايي ټولنې لخوا ۸۴ میلیونه امریکايي ډالره

مرسته تصویب کړه. د دې پروژې موخه په کليوالي او ښاري سيمو کې د فعاليتونو زياتول، د مېرمنو لپاره د معيشت لا زياتو فرصتونو برابرول، د اقليمي بدلون پر وړاندې مقاومت رامنځته کولو فعاليتونو پراخول او راستنېدونکو افغان کډوالو لپاره د کار او خدمتونو برابرول دي.

۴۹. ملګرو ملتونو د فبرورۍ په ۲۸ نېټه د ادارو ترمنځ ملي حل لارو پلان تصويب کړ، چې موخه يې د ټولنې محوره او ساحې پر بنسټ تګلارې په وسيله د داخلي بې ځايه شوو د ټولنيز اقتصادي شموليت لپاره د يو مناسب او فعال چاپيريال رامنځته کولو کې د مرستو برابرول دي. دا پلان د ۱،۱۲ ميليونه مستقيمو ګټه اخيستونکو ته چې په ۱۰ ولسواليو او نهو ولايتونو کې ۵۹۸۰۶۰ داخلي بې ځايه شوي کسان هم په کې شامل دي، د ۱۸۳ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت مالي تمويل چمتو کوي. همدارنګه ملګرو ملتونو د مۍ مياشتې په ۲ نېټه د راستيندو لپاره ټاکل شوو سيمو کې د راستنېدونکو، کوربه ټولنو او داخلي بې ځايه شوو لپاره په پوله کې د بشردوستانه غبرګون او همدارنګه پايداره حل لارو او خدمتونو په ګډون د بشپړ غبرګون پلان خپور کړ، چې ټولټال د اړتيا وړ بوديجه يې د اټکل له مخې شاوخوا ۷ ميليونه ډالره کېږي.

۵۰. د ملګرو ملتونو لخوا هېواد ته په فزيکي توګه د نغدو پيسو واردولو خدمتونه رامنځته شول ترڅو بشردوستانه فعاليتونو سره مرسته او د هغو ملاتړ وشي چې د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر ۱ نېټې او د ۲۰۲۴ کال د اپريل ۱۵ نېټې ترمنځ موده کې يې ۴،۲۳ ميليارده ډالر هېواد ته رالېږدولي، چې له دې ډلې ۶۰۰ ميليونه ډالر د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ ۱ څخه تر ۲۰۲۴ اپريل ۱۵ نېټې پورې ترلاسه شوي دي. له يادو خدمتونو او اسانتياوو څخه د ملګرو ملتونو ۱۹ ادارې، نړيوال بانک، آسيا پراختيايي بانک او ۶۱ تائيد شوي پرمختيايي شريکان او نړيوالې غير دولتي مؤسسې (انجوګانې) ګټه پورته کوي. د وارد شوو بانکنوټونو په مرسته د ملګرو ملتونو ادارې کولای شي د خپلو بشردوستانه فعاليتونو لګښتونه ورکړي او د نړيوال مالي تمويل ترلاسه کولو په موخه د تائيد شوو نړيوالو انجوګانو لپاره يې يو شفاف او د کم لګښت چينل برابر کړی دی. په ورته وخت کې، د افغانستان بانکي وضعيت په تدريجي توګه مخ پر ښه کېدو دی او په امانتونو کې د لږ زياتوالي سربېره په انفرادي او شرکتي حسابونو باندې د نغدو پيسو ويستلو محدوديتونو د دوام او په نړيوالو ادانيو کې د ننګونو په شتون کې د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر څخه تر ۲۰۲۳ کال ډسمبر پورې د بانکونو د فعالو نمايندګيو شمېر شاوخوا ۵،۷ سلنه زيات شوی دی. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو کم شمېر ادارې او نړيوالې انجوګانې د اړوندو معافيتونو سره سم د داخلي پولي واحد اړتياوو د يوې برخې پوره کولو لپاره د بانکونو له لارې نړيوالو ادانيو څخه ګټه اخلي، د نغدو پيسو انتقالات به د يو معلوم او اټکل کېدونکي راتلونکي لپاره لا هم د يوې اړتيا په توګه دوام ومومي.

۵۱. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې د مخنيوي شبکې کارونه لا هم دوام لري څو له خطر سره مخ مېرمنې، ماشومان، معلولين په ځانګړې توګه د روغتيا سکتور له لارې خوندي وساتي، چې په هېواد کې د اغېزمنو شوو ټولنو لخوا د لاسرسي لومړنۍ نقطې په توګه پېژندل شوې ده. يادې شبکې په سويلي، شمالي او لويديځو سيمو کې د لوړ خطر پر دريو ساحو تمرکز ساتلو سره خلکو ته مرستې رسولې دي.

**پنځم: بشري مرستې**

۵۲. افغانستان د څلور لسيزو جنګ جګړو پايلو، د اقليمي بدلون شديدو اغېزو، معمول طبيعي پېښو، نه ختمېدونکې بېوزلۍ او زده کړو ته د لاسرسي په ګډون، په عامه ژوند کې د ښځو ګډون پر وړاندې شته خنډونو سره لاس و ګريوان دی. افغانستان د نوټردام اقليمي شاخص (Notre Dame Climate Index) د معلوماتو پر بنسټ، په نړيواله کچه د اقليمي بدلون

د زیان منني او د اقلیمي بدلون سره د مبارزې لپاره د چمتووالي نشتون په برخه کې شپېړم هېواد دی. د نه اټکل وړ وچ او ګرم ژمی چې په جنوري کې پیل کېږي او تر مارچ پورې دوام کوي د پام وړ کمې واورې وربېدو لامل شوی، چې له کبله یې د ژمني غنمو کرل له ځنډ سره مخ شوي او د معیشت ښه والي یې زیانمن کړی دی. د اټکل له مخې به په ۲۰۲۴ کال ۲۳،۷ میلیونه خلک – چې د ټول نفوس نیمایي تشکیلوي – بشري مرستو ته اړتیا ولري. دا وضعیت د سختو اورښتونو له کبله لا خراب شو چې د می په ۱۰ او ۱۱ نېټه د افغانستان په شمال ختیځو برخو کې د اوبو چټکو جریانونو او سیلابونو راوتلو لامل شو، چې په بغلان، بدخشان او تخار ولایتونو کې یې ۲۱ ولسوالۍ زیانمنې کړې. په یادو دریو ولایتونو کې د می په ۱۶ نېټه د ۲۱۴ تنو مړه کېدل او ۳۲۸ تنو ټپي کېدل تائید شول. د دې ترڅنګ ۸۶۹۶ کورونه ویجاړ او یا تخریب شول او په زرګونو خلک بې کوره شول.

۵۳. د اساسي اړتیاوو پوره کولو لپاره د بشري ټولنې هڅې له ننګونو سرېره د خطر کمولو پیاوړو اقداماتو او ګډو لارو چارو له لارې ترسره شوې څو د غوره کیفیت پروګرام جوړولو اړین معیارونه په پام کې ونیول شي. د ۲۰۲۴ کال د جنوري او مارچ میاشتو ترمنځ موده کې د بشري مرستو همکارو ادارو ۹،۹ میلیونو خلکو ته لږ تر لږه یو ډول بشري مرستې رسولي دي، چې په دې کې له ۸،۶ میلیونه خلکو سره د خوراکي توکو او معیشت؛ ۲،۴ میلیونه خلکو سره د روغتیا ساتنې؛ ۱،۲ میلیونه خلکو سره د څښاک پاکو اوبو، نظافت او حفظ الصحې؛ ۲،۴ میلیونه ماشومانو او میندوارو/شیدې ورکوونکو مېرمنو سره د تغذیې؛ ۱ میلیون خلکو سره د خوندیتوب؛ ۵۵۴۰۰۰ ماشومانو سره د زده کړې؛ او ۵۱۶۰۰۰ خلکو سره د بیړنۍ سرپناه او غیر خوراکي توکو په برخو کې مرستې شوې دي. د می میاشتې په ۱۵ نېټه د ۲۰۲۴ کال لپاره د افغانستان د بشري مرستو اړتیاوو او غبرګون پلان د ۳،۰۶ میلیارده ډالرو اړین مالي تمویل څخه یوازې ۱۶،۲ سلنه ترلاسه کړی و.

۵۴. په افغانستان کې له ۱۰ کورنیو څخه ۹ یې د خوراک لپاره کافي خواړه نه لري – اټکل کېده چې د ۲۰۲۳ کال نومبر څخه تر ۲۰۲۴ کال مارچ پورې به ۱۵،۸ میلیونه خلک د خوراکي موادو له شدید کمښت سره مخ شي. نړیوال خوراکي پروګرام (WFP) د جنوري او مارچ میاشتو ترمنځ موده کې اته میلیونه خلکو ته شاوخوا ۱۰۰۰۰۰ ټنه خوراکي مواد ویشلي او په نغدي توګه یې ۵۹،۱۶ میلیونه امریکایي ډالر ورکړي دي. یاد پروګرام شاوخوا دوه میلیونه میندوارو او شیدې ورکوونکو مېرمنو او انجونو او همدارنګه له پنځه کلنۍ ښکته ماشومانو سره د تغذیې په برخه کې مرسته کړې او له ۲۸۷۶۱۶ څخه زیاتو خلکو سره یې د پیاوړتیا او معیشت په برخه کې مرسته کړې ده. په ښوونځیو کې د خوراکي توکو ویشلو له لارې په لومړنیو ښوونځیو کې ۴۳۳۸۰۰ ماشومان له دې مرستو برخمن شوي دي. د یادونې وړ ده چې نړیوال خوراکي پروګرام د مالي تمویل د کمښت له امله دې ته اړ شوی چې د خوراکي توکو تأمین بشپړې مرحلې ډلبندۍ ۳+وګړو لپاره د عمومي خوراکي توکو مرسته بنده کړي؛ خو سره له دې، د ژر تر ژره او تود غبرګون لپاره یې سرچینې ځانګړې کړې وې څو هغو دوه میلیونو خلکو سره مرسته وکړي چې له د خوړو له شدید کمښت سره مخ دي او د ۲۰۲۴ کال د می څخه تر سپتمبر پورې د لومړنۍ څارنې له لارې پېژندل شوي دي.

۵۵. د جنورۍ او مارچ میاشتو ترمنځ موده کې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان د لنډې مودې معیشتي مرستو له لارې له ۲،۲۵ میلیونه ګټه اخیستونکو سره مرسته کړې ده. همدارنګه دې سازمان د اوبو ۲۹۴ منابع او د ۱۳۶ کیلو مټرو په اوږدوالي د اوبو لګولو ساختمانونه جوړ کړي او په دې سره یې کرنیزه پیاوړتیا او مؤثریت نور هم زیات کړي دي. د ۱۰۰۰ خمنډکونو او ۵۰۰ وینې سمپلونو په راټولولو او تحلیلولو او د ۲۸۷۷۰ کورونو او ۵۹ د حیواناتو مارکیټونو دواپاشي کولو سره د کریمیا-کانګو تبې ناروغۍ د خپرېدو مخه نیولې ده. په هغو سیمو کې چې د ملخانو له هجوم سره مخ دي، یوه سروې ترسره شوې چې په کې په ډاګه شوې چې په اوو ولایتونو کې ۴۶۴۰ هکتاره ځمکه د مهاجم ملخانو تر هجوم لاندې ده، د مخنیوي او کنټرول لپاره یې دوه سوه لاسي کوچني دواپاشي وسایل او ۷۰ شاته اچول کېدونکي د دواپاشۍ وسایل بزګرانو ته ویشل شوي دي.

۵۶.	د روغتیا نړیوال سازمان د معلوماتو له مخې، د جنوري ۱۴ او اپریل ۲۰ نیټې ترمنځ موده کې د شدید اسهال او بدن اوبو کمېدلو ۲۶۶۶۰ پېښې ( چې ۵۵ سلنه یې له پنځه کلنۍ ښکته ماشومانو کې وې) ثبت شوي دي، په داسې حال کې چې په ۲۰۲۳ کال کې په ورته موده کې دا پیښې ۳۴۸۵۶ (چې ۵۶ سلنه یې له پنځه کلنۍ ښکته ماشومانو کې وې) ښودل شوي دي. همدارنګه د شري ۱۷۶۳۲ شکمنې پېښې (چې ۸۱ سلنه یې له پنځه کلنۍ ښکته ماشومانو کې وې) ثبت شوي دي، حال دا چې په ۲۰۲۳ کال کې په ورته موده کې دا پیښې ۱۰۳۵۲ (چې ۷۱ سلنه یې له پنځه کلنۍ ښکته ماشومانو کې وې) ښودل شوي دي. د جنوري ۱ او اپریل ۲۰ نیټې ترمنځ موده کې د ۲۰۲۳ کال د شېږ ثبت شوو پېښو په پرتله د وحشي لومړۍ بڼې پولیو ویروس دوه پېښې ثبت شوي دي.

۵۷.	د روغتیا نړیوال سازمان د نړیوالو روغتیايي معلوماتو مرکز د معلوماتو له مخې، د جنورۍ له نیمايي څخه تر مارچ میاشتې پورې د جګړو اړوند صدمو (تراما) مشورو شمېر ۲۴۴۵ تنو ته رسېږي، چې د ۲۰۲۳ کال په پرتله ۲۶ سلنه زیاتوالی ښيي. د جنورۍ او اپریل ترمنځ موده کې له پنځو کلونو ښکته ټولټال ۱۷۲۵۳۹ ماشومان چې شدیده حاد خوارځواکي یې درلوده، په ۱۳۲۷۷ بستردارو او ۱۶۰۱۶۲ غیر بستردارو روغتونونو کې تر درملنې لاندې نیول شوي دي. سربېره پر دې، د ۲۰۲۷۲۱۶ ماشومانو له ډلې چې د منځنۍ کچې حاد خوارځواکۍ درملنې ته اړتیا لري، ۳۲۵۲۰۵ ماشومان تر درملنې لاندې نیول شوي دي. په ورته وخت کې د سیارو روغتیايي او تغذيي ټیمونو شمېر د سیار روغتیايي او تغذيي ټیم د ستراتیژۍ سره سم له ۳۳۹ ټیمونو څخه ۱۷۹ ټیمونو ته راکم شوی دی. د یادونې وړ ده چې د تغذيي ټیمونه په لرې پرتو سیمو کې خلکو ته د تغذيي خدمتونو برابرولو لپاره خورا مهم رول لوبوي.

۵۸.	د جنورۍ له ۱ نېټې څخه د اپریل ۲۴ نېټې پورې ۲۰۴۱۵ افغانان له پاکستان څخه خپل هېواد ته راستانه شوي او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) څخه یې د خوندیتابه او نورو اساسي اړتیاوو په برخه کې مرستې ترلاسه کړي دي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ لخوا راستانه شوو کډوالو سره ترسره شوو مرکو په ډاګه کړه چې د دوی د راستنېدو عمده لاملونه د نیول کېدو ویره او یا په زور ستنول، د مهاجرت کارتونو د اعتبار اړوند اندېښنې او د یادو کارتونو د تمدید اړوند نا څرګند حالت او همدارنګه اقتصادي ستونزې (لوړ لګښتونه او د دندو نشتون) ګڼل کېږي. راستانه شویو کډوالو د کور جوړونې، مالي مرستې، خوراکي موادو، اسنادو، حقوقي مرستې، روغتیا او زده کړو په برخه کې مرستو ته اړتیا درلوده. مېرمنې او انجونې په نا انډوله توګه زیانمنې شوې وې او د زده کړې او کار پر وړاندې ستونزو او د تاوتریخوالي له زیات خطر سره مخ وې.

۵۹.	د جنوري او اپریل ترمنځ موده کې د بشردوستانه لاسرسي ۶۱۱ پیښې ثبت شوي دي، چې د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. ۳۱۸ پروژې چې په بشردوستانه فعالیتونو کې د مداخلې، فزیکي محیط ستونزو لکه واورې اورښت او سیلابونو او د بشري مرستو کارکوونکو پر وړاندې تاوتریخوالي له کبله د لنډې مودې لپاره ځنډول شوې وې، ۷۲ سلنه یې د اووه ورځو په موده کې حل و فصل شوې. بشري مرستو ته د لاسرسي تر ټولو زیاتو ستونزو شمېر په لویدیځو سیمو کې (۱۲۹)، په سویلي سیمو کې (۱۰۹) او په ختیځو سیمو کې (۱۰۹) ستونزې ښودل شوي دي. د دې ترڅنګ، د بشري مرستو پر ښځینه کارکوونکو او ګټه اخیستونکو باندې د بندیزونو د ۵۴ پېښو یادونه شوې ده.

۶۰.	برحاله چارواکو د راپور ورکونې مودې پر مهال نوي بندیزونه ولګول او غوښتنه یې دا وه چې برحاله چارواکي دې د غیر دولتي مؤسسو (انجوګانو) د تدارکاتو او استخدام په پروسه کې ګډون ولري او غیر دولتي مؤسسې دې بیا ځلې ثبت شي، چې دې کار پر هغو انجوګانو ځانګړې اغېزه درلوده چې مشري یې ښځې کوي او د خوندیتوب په برخه کې خدمتونه وړاندې کوي. بشري مرستو ته د لاسرسي کاري ډلې او په بشردوستانه فعالیتونو کې جنډر کاري ډلې، چې له ملګرو ملتونو او همکارو ادارو څخه

تشکیل شوي، د انجوګانو او ملګرو ملتونو افغان ښځینه کارکوونکو باندې د بندیزونو اغېزو تعقیب او څارلو ته دوام ورکړ، چې په لړ کې یې د ۲۰۲۴ کال د مارچ میاشتې سروې پایلې په ډاګه کوي چې ۴۵ سلنه ځواب ورکوونکې سازمانونه په نسبي توګه د ښځینه او نارینه کارکوونکو په درلودلو سره کار کوي (۴۳ سلنه د ۲۰۲۳ کال په اکتوبر کې) او ۲۷ سلنه یې بیا په بشپړه توګه د ښځینه او نارینه کارکوونکو په شتون کې کار کوي (۲۸ سلنه د ۲۰۲۳ کال په اکتوبر کې). ټولټال، ۶۰ سلنه ځواب ورکوونکو د عامه پوهاوي برخو درلودونکو نوو پروژو په ثبتولو کې چې د مېرمنو او انجونو ستونزو ته د رسېدنې او لاسرسي لپاره مهمې وي، د ستونزو خبره کړې ده، او یادونه یې کړې چې د حجاب فرمان جدي تطبیق د دوی د ښځینه کارکوونکو پر تګ راتګ اغېزه درلودلې ده. د دې ترڅنګ، ۵۴ سلنه ځواب ورکوونکو لیدلې چې دغو بندیزونو د نظر او وړاندیز کولو او د بشردوستانه مرستو په برخه کې په تصمیم نیونه کې د ښځو د ګډون پر وړتیا باندې اغېزه کړې ده.

۶۱. د ملګرو ملتونو په مشرۍ د ماین پاکۍ تخنیکي مرکز د چاودېدنکو توکو پر وړاندې د غبرګون هڅو همغږي کولو ته دوام ورکړی دی، چې له فبروري څخه تر می پورې یې د غوره مدیریت ۷۸۸ لیدنې ترسره کړې دي. د ماین پاکۍ په برخه کې همکارو ادارو شاوخوا ۵۸ کیلو متره مربع ځمکه له ماینونو پاکه کړې او په دې توګه یې د مرګ ژوبلې مخه نیولې او د خلکو خوندي تګ راتګ زمینې برابرولو ترڅنګ یې د اړینو خدمتونو رسولو ته لاره هواره کړې ده. یاد مرکز د بیا میشت کېدنې ولسوالیو کې د چاودېدونکو ماینونو له امله زیانمن شوو کلیو په ګوته کولو او پېژندلو کې مرسته کړې وه او له دې معلوماتو څخه د ماین پاکۍ د هغو کړنو په رهبري کولو کې کار اخیستل کېده، چې له ماینونو څخه د ځمکې پاکولو او د راستنېدونکو کډوالو لپاره د چاودېدونکو ماینونو د خطر پوهاوي کې یې مرسته کړې ده. دغه مرکز په سرحدي سیمو او د ترانزیت په مرکزونو کې د چاودېدونکو ماینونو د خطر پوهاوي په برخه کې همغږي رامنځته کولو ته دوام ورکړی دی. په اپریل میاشت کې د انجوګانو د کاري ټیمونو لپاره چې د چاودېدونکو ماینونو د خطر په پوهاوي کې له قربانیانو سره مرستې او د معلولیت کلیدي پیغامونو ته هم ځای ورکوي، د معلولیت د پوهاوي یوه هر اړخیزه ټولګه ترتیب او چمتو شوه. همدارنګه د می په میاشت کې د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ خدمتونو د ماین پاکۍ له ۱۷ ټیمونو سره تړونونه وکړل څو له ۱۴ ښوونځیو څخه د یو کیلومتر نه په کم واټن کې پرتو سیمو کې له ماینونو څخه د ځمکې پاکولو چارې ترسره کړي، ځمکه د کرکیلې، کور جوړونې او اوبو لګولو لپاره برابره کړي او په کندز، بغلان او فاریاب ولایتونو کې په ۱۹ خطرناکو سیمو کې د خطر پوهاوی په لاره واچوي. په افغانستان کې د اوږدمهاله ماین پاکۍ چارو ترسره کولو په برخه کې د بودیجې او مالي تمویل محدودیتونه یوه ننګونه ده. د سولې په چارو د سرمنشي مرستیال د می ۱۵ نېټې څخه تر ۱۷ نېټې پورې له افغانستان څخه لیدنه وکړه ترڅو د نا چاوده ماینونو د اغېزو په هکله پوهاوی ورکړي او له ماینونو څخه د افغان ټولنو د پاکولو په موخه د اغېزناکو ستراتیژیو لپاره لارې چارې ولټوي.

**شپږم: له نشه ای توکو سره مبارزه**

۶۲. په ۲۰۲۳ کال د نشه ای توکو پر کرکیله د برحاله چارواکو لخوا د بندیز لګولو له کبله د کوکنارو په کرکیله کې له ۹۵ سلنه کموالي وروسته شاوخوا ۴۹۵ هکتاره ځمکه د راپور ورکونې مودې پر مهال د کوکنارو له کښت څخه پاکه شوې ده. همدارنګه د اپریل په میاشت کې د نشه ای توکو قاچاق کوونکو د عدلي تعقیب او څار په موخه نور اقدامات هم اعلان شول، چې په دې سره د کوکنارو په کرکیله او خرڅلاو کې هم د پام وړ کموالی راغی. خو سره له دې، له ساحو څخه ترلاسه شوي شواهد په ډاګه کوي چې لا هم په بدخشان، هرات، کندهار، ننګرهار او تخار ولایتونو کې د کوکنارو کرکیله دوام لري.

۶۳.	د فبروري او اپریل میاشتو ترمنځ موده کې د یو کیلو وچو اپیومو (تریاکو) ملي منځنی نرخ له ۷۴۶ امریکایي ډالرو څخه ۷۵۱ امریکایي ډالرو ته لوړ شو، چې ۰،۸ سلنه زیاتوالی ښيي او د ۲۰۲۳ کال په ډسمبر کې په ۸۰۲ امریکایي ډالرو د یو کیلوګرام اپیومو پلورلو نرخ په پرتله ټیټ دی. د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر (UNODC) د بدیل معیشت پروګرام د ۲۰ کوچنیو اوبو لګولو کانالونو رغولو او د ۲۷۰ ستروسو باغونو جوړولو له لارې چې د څاڅکي اوبو خور سیستمونو په درلودلو سره ۱۶۲ هکتاره ځمکه تر پوښښ لاندې راولي، له ۱۴۵۶۳ څخه زیاتو هغو کورنیو سره مرسته کړې چې په کرکیله بوختې دي.

۶۴.	د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر او روغتیا نړیوال سازمان، اروپايي تولنې او جاپان سره په ګډه همکارۍ، د «ژور بحران: رواني روغتیا او د نشه يي توکو استعمال چې د افغانستان ټولنه فلجوي» تر سرلیک لاندې د مارچ په ۲۱ په ویانا کې د لوړې کچې غونډه جوړه شوه. د دغې غونډې ګډونوالو د نشه اي توکو کارونکو او رواني روغتیا ستونزو پر وړاندې د پېغور او توپیري چلند د مخنیوي پر اړتیا او همدارنګه د روزل شوو روغتیايي کارکوونکو او د بودیجې تشو په ګډون، د مخنیوي او درملنې د غوره کیفیت او هر اړخیزو خدمتونو نشتون باندې بحث او خبرې اترې وکړې.

۶۵.	د اپریل په ۱۷ نېټه د نشه اي توکو پر وړاندې مبارزې کاري ډلې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر په ګډه مشرۍ، په کابل کې د میشتو سفیرانو او د برحال نظام د عامې روغتیا وزیر، قلندر عباد په ګډون خپله څلورمه غونډه وکړه. د دغې غونډې ګډونوالو د راټولو شوو ارقامو او د شواهدو پر بنسټ د نشه اي توکو درملنې خدمتونو په هکله بحث وکړ څو دغو خدمتونو ته لاسرسی او ګټورتیا لا زیاته شي، او په دغو خدمتونو کې د زیانمنو شوو وګړو ترمنځ د خورا ډېرو زیان منونکو کسانو لکه مېرمنو او ماشومانو پر شمولیت او په افغانستان کې د نشه اي توکو د کارونې اړوند ستونزو د له منځه وړلو لپاره پر مشترکو او متوازنو تګلارو يې هم ټینګار وکړ.

**اووم: د ماموریت ملاتړ**

۶۶.	د ۲۰۲۴ کال د اپریل تر ۳۰ نېټې پورې، په یوناما کې د تشو بستونو کچه د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۹ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۳ سلنه، د داخلي مسلکي افیسرانو لپاره ۲۰ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۱۶ سلنه وه، چې د دې په پرتله د تایید شویو بستونو کچه په ترتیب سره، ۹،۵ سلنه، ۱۲ سلنه، ۱۰،۵ سلنه او ۹،۵ سلنه دی. د ښځینه کارکوونکو تناسب د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۳۴ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۴۱ سلنه، د داخلي مسلکي افیسرانو لپاره ۱۰ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۹ سلنه دی. د ملګرو ملتونو د رضاکارانو پروګرام د ځوانو افغان میرمنو لپاره چې غواړي د ملګرو ملتونو په کاري ځواک کې شاملې شي، یوه مهمه لاره چاره ده.

**اتم: مشاهدات**

۶۷.	افغانستان لا هم له جدي اقتصادي او بشري ننګونو سره مخ دی، چې د اقلیمي بدلون ناوړه اغېزو او د نړیوالو مرستو کچې په راکمېدو سره نورې هم زیاتې شوي دي، چې له کبله يې په هېواد کې زیات شمېر وګړي په ځانګړې توګه، مېرمنې او ماشومان په شدیده توګه اغېزمن کېږي. زه د خپلې ژورې خواخوږۍ او تسلیت مراتب په افغانستان کې په وروستیو سیلابونو کې د سلګونو وژل شویو کسانو کورنیو ته وړاندې کوم. د دغو کسانو د وژل کېدو غمجنه پېښه د اقلیمي بدلون پر وړاندې د افغانستان تر ټولو زیاته زیانمننه په ډاګه کوي.

۶۸. د افغانستان ثبات او پرمختیا د خپلو ګاونډیانو سره په همکارۍ او اتصال پورې تړاو لري. د سوداګرۍ او ترانزیت پرمختګ په دې برخه کې خورا مهم ګڼل کېږي. سربېره پر دې، سیمه ایزه همکاري او ښکیلتیا په یوائې توګه نشي کولای د لنډ مهاله بشري مرستو او اوږدمهاله پرمختیایي مرستو لپاره د اړینو سترو مالي سرچینو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي او یا نړیوالو معیاري، مقرراتي او مالي میکانیزمونو ته د دې هېواد لاسرسی او په یادو میکانیزمونو کې ګډون بېرته عادي حالت ته وګرځوي.

۶۹. له برحاله چارواکو سره د اسلامي همکارۍ سازمان (OIC) د تعامل او همکارۍ دوام له هرکلي سره مخ شوی دی. په ځانګړې توګه، د بانجول اعلامیه چې د مې په ۴ او ۵ نېټه د اسلامي همکارۍ سازمان غړو هېوادونو په سرمشریزه کې تصویب شوه، د یو سوله ایز، امن، سوکاله او ټولګډونه افغانستان لپاره د یاد سازمان د ملاتړ ژمنه بیا تازه کوي او د ټولو افغانانو بشري حقونو ته د درناوي او د افغان مېرمنو او انجونو حقونو د خوندیتوب پر اهمیت باندې ټینګار کوي.

۷۰. په افغانستان کې د مېرمنو ستونزمن وضعیت د ښځو حقونو په برخه کې د شاتګ یو تر ټولو ښکاره بیلګه ده، چې په نړیواله کچه ورسره لاس و ګریوان یو. افغان مېرمنې او انجونې د عامه ژوند په ټولو برخو، لکه زده کړه، کې له خپلو حقونو او انساني کرامت څخه په سیستماتیکه توګه محرومې شوي دي، چې اغېزې به یې د راتلونکو څو کلونو لپاره پاتې وي. د دوامداره او پایداره سولې د راتللو لپاره یوائېنۍ لاره ټولګډونه ډیالوګ او د ښځو ګډون او مانادارہ ګډون دی.

۷۱. د برحاله چارواکو محدودونکې پالیسۍ نه یوائې له بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو څخه سرغړونه ده، بلکې په افغانستان کې د اوسېدونکو خلکو پر معیشت اغېزه ښیندي او د بشري بار د لا زیاتوالي او بالقوه بې ثباتۍ رامنځته کېدو لامل ګرځي. د اعدام سزا د نړیوال بشري حقونو قانون اصولو او په تېره بیا، د ژوند حق او د ربړونې او غیر انساني یا سپک چلند یا مجازاتو څخه پرته د ازادۍ حق سره په ټکر کې ده. زه په برحاله چارواکو غږ کوم چې د اعدام سزا د ژر تر ژره لغوه کولو پر وړاندې د لومړني ګام په توګه د اعدام سزاګانې په سملاسي توګه ودروي.

۷۲. د برحاله چارواکو لخوا د سوله ایزو اعتراضونو د سرکوبولو لپاره له زور څخه کار اخیستل او د بیان ازادۍ او یوې ډلې پورې تړاو درلودلو د محدودولو لپاره د فرمانونو صادرولو دوام لا هم د اندېښنې وړ دی. زه په برحاله چارواکو غږ کوم څو هغه محدودونکې پالیسۍ له منځه یوسي چې د افغانستان خلک د خپلو انساني حقونو د ګټې پورته کولو څخه منع کوي. د برحاله چارواکو لخوا د رسنیو په چارو او خپرېدونکو محتویاتو کې د لاسوهنې دوام د خواشینۍ وړ دی. مدني ازادي او خپلواکې رسنۍ د بیان ازادۍ کلیدي اجزاوې او د ګډ عامه ژوند اړین عنصر دی او باید درناوی یې وشي.

۷۳. د ملکي وګړو د ژوند او ملکي اهدافو د خوندي ساتلو لپاره باید د امکان تر بریده ډېرې هڅې ترسره شي. زه د داعش خراسان ډلې لخوا ترسره شوي بریدونه چې په دوامداره توګه هزاره او شیعه وګړي ګواښي، په کلکه غندم. د برحاله چارواکو لخوا اعلان شوې عمومي بښنې ته د ژمنتیا سربېره په دوامداره توګه د پخواني حکومت د چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو هدف ګرځول هم د ډېرې اندیښنې وړ دي. د دغو اشخاصو د خوندیتوب، د ترسره کېدونکو سرغړونو تحقیق او د مرتکبینو لپاره شفافې حساب ورکونې څخه ډاډ ترلاسه کول خورا مهم دي.

۷۴. سره له دې چې د وروستیو بحرانونو لکه د هرات زلزلو، له بهر څخه په ډله ایزه توګه د افغانانو راستنیدو او سیلابونونو له کبله سرچینې خورا ډېرې محدودې شوې دي، د بشري مرستو همکارو ادارو لخوا د اساسي مرستو چمتو کول، په ځانګړې توګه مېرمنو، ماشومانو او زیات عمر لرونکو کسانو ته، لا هم دوام لري. اړینه ده چې بشردوستانه مرستو غوښتنه په سخاوتمندانه توګه تمویل شي څو د افغانانو او په ځانګړې توګه د تر ټولو ډېرو زیان منونکو وګړو سترو او حیاتي اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړي. زه په ټولو غړو هېوادونو باندې غږ کوم څو له افغان کډوالو سره مرستو ته دوام ورکړي او په دې برخه

کې خپلې مرستې لا زیاتې کړي او همدارنګه په پراخه کچه ګډ مسؤلیت سرته رسول او له هغو ګاونډیو هېوادونو سره نړیوال پیوستون لا زیات کړي، چې په زیات لګښت یې د لسیزو لپاره د افغان کډوالو کوربتوب کړی دی. برحاله چارواکي باید په افغانستان کې پر مرسته رسوونکو ښځینه کارکوونکو باندې لګول شوي بندیزونه لرې کړي او په بشردوستانه چارو کې له مداخلې ډډه وکړي. همدارنګه په افغانستان کې د بشردوستانه برخې کارکوونکو، شتمنیو او مرکزونو پر وړاندې تاوتریخوالي شتون د مرستو رسولو کارکوونکو لپاره یو کړکجن چاپېریال رامنځته کړی دی. برحاله چارواکي باید د مرستو کارکوونکو ته له خنډ او ځنډ پرته لاسرسی تضمین او خپله ونډه اداء کړي څو ډاډ ترلاسه شي چې هغه مرستې چې ترسره کېږي باید ټاکل شوو او مستحقو کسانو ته ورسېږي.

۷۵. د ملګرو ملتونو رول په افغانستان کې شته ننګونو او د یادو ننګونو له منځه وړلو لپاره د ټولو همکارو ادارو د ګډ کار اړتیا ته په پام سره، لا هم خورا مهم دی. زه د خپلې ځانګړې استازې روزا اوتونبایوا په مشرۍ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له ټولو کارکوونکو او د هغې د ټیم او د غیر دولتي سازمانونو همکارانو څخه په خورا ننګونکي چاپېریال کې د افغانستان خلکو ته د دوی د دوامدره ایثار او خدمت له کبله د زړه له تله مننه کوم.

---------------